# هرهغه څوک چې د علم د زده کړې دروازې بندوي په حقیقت کې د خدای پېژندنې مخنیوی کوي

دغه خبره لوګر والي هغې غونډې ته وکړه چې د دې



ولایت هغو زده کوونکو چې په خپلو لاسونو یې یو شمېر تخنیکي وسایل جوړ کړي او هم په کم عمر کې قران شریف حفظ کړي وکړه. د دوی د تشویق او هڅولو لپاره د ولایت په مقام کې نندارتون جوړ شوی وه، چې لوګروالي محمد حلیم فدایي، دولایتي شورا مرستیال عدالت عمرعبدالرحیمزی او د دې شورا غړې نفیسه هجران، د پوهنې رئیس انجنیرمحمداکبر ستانکزي، زده کوونکو اود زده کونکو پلرونو برخه اخستې وه.

لوګر والي دوی ته په خبروکې وویل: کله چې زه دې ولایت ته راغلی یم نو د مختلفو ښوونځیو څخه مې لیدنه کړې او په دغه لیدنو کې ؛ جوته شوې چې دلته زده کوونکي اود دوی والدین څومره زحمت باسي، والدینو تر ډېره حده خپل مسولیت اداکړي دي. نوموړي د محمداغي ولسوالۍ د سفید سنګ د سیمې هغه پلار نوم یاد کړه چې خپله ځمکه یې داولادونو د زده کړې او ښې روزنې په خاطر خرڅه کړې ده. والي زیاته کړه، چې زده کړه کول په نراوښځه دواړو فرض دی او علم یوازې وجیبه یا یوازې حق ندی بلکې فرضیت دی، هر هغه څوک چې دعلم دروازې بندوي په حقیقت کې د خدای پیژندنې او انسان پیژندنې مخنیوي کوي، ښوونځی د خداي پیژندنې، انسان پیژندنې، فکرجوړونې او هیواد جوړونې ځای دی او همدارنګه یې دترل شوو ښوونځیو په بیرته پرانستلو کې له ولسه مرسته او همکاري وغوښته او دا یې دټولو ګډ مکلفیت وباله، ځکه علم د ځمکې د اعمار او ولس ته د خدمت پخاطر دی نه دتخریب په خاطر او که مونږ دغه ډول ابتکاراتو ته زمینه او امکانات برابر کړو نو په راتلونکې کې به له دې څخه د لویو او ښو ابتکاراتو اونوښتونو د جوړېدو شاهدان اوسو.

فدایي له وسله والو څخه وغوښتل چې دوی دانجونو دښوونځیو دروازې ترلي له دوی څخه غوښتنه کوم چې د ښوونځیو پر وړاندې خنډ نه شي، ځکه دلوګر ټول زده کونکي په اسلامی حجاب کې خپلو زده کړو ته ځي او د ښونځیو بندول په دین او شریعت کې هم جواز نلري.

والي په خلکو غږ وکړ، پریږدئ چې کوچنیان مو خپل تعلیم وکړي قران کریم حفظ کړي او په سوله کې ژوند وکړي.

یادې غونډې ته د ولایتي شوار مرستیال او دپوهنې ریس او د والدینو په استازولۍ یو مشر سید شاه بابک خبرې وکړې نوموړي وویل: خوښ یم چې د خپلو بچیانو او لمسیانو د زده کړې لپاره مې خپله ځمکه خرڅه کړې خو په دوی مې تعلیم کړی او اوس د خپل ولس په چوپړ کې دي.

وروسته د پوهنې ریاست اړوند د یو شمیر لیسو د زده کوونکو له لورې جوړشوي تخنیکي وسایل سکواټورونه، اټومي موډل، د اوبو اوبازک، تسلکوب، لیفت، تحت البحري سترګه، د هافمن او فشارمعلومولوآلې اوځینې نور تخنیکي وسایل چې دوی په خپلو لومړنیو امکاناتو جوړ کړي ؤ، ننداریې ته وړاندې کړل، چې یاد زده کوونکي د لوګر ولایت مقام له لورې په ستاینلیکونو او ډالیو و نازول شول.

## په لوګر کې دلنکن ښوونیزمرکز...

دپرانیستې غونډې ګډونوالوته دښه راغلاست ویلوترڅنګ زیاته یې کړه، چې اوسمهال ځوانان کولای شي، په ښه توګه ددې ښوونیزمرکزڅخه دکمپیوټراو انګلیسي ژبې په زده کړه کې برخمن شي. یادښوونیزمرکز دافغانستان په نورو ولایتونوکې هم فعالیت لري، چې دغه یوویشتم ښوونیزمرکزدی،چې دامریکا دسفارت په مالي مرسته په لوګرولایت کې پرانیستل کیږي، په دې مرکزکې به دکمپیوټر، انګلیسي ژبې، انټرنټ او دژورنالیزم کورس په وړیا ډول ترسره شي اوترڅنګ یې بیلابیل کتابونه هم شته چې دلوست مینه وال ورڅخه ګټه اخیستلای شي. لوګروالي محمدحلیم فدایي غونډې ته په خبروکې لومړۍ د لوګر ولس او ځوانانو ته د دغه ښوونیز مرکز دپرانیستې مبارکي وړاندې کولو سربیره خوښي څرګنده کړه، ویې ویل، چې دلنکن ښوونیز مرکز په پرانستو سره سم لوګري ځوانان دټکنالوژۍ په زده کړه مصروفیږي او همدا ټکنالوژي ده چې د وخت د ضایع کیدو مخه نیسي او ډېر کار په کم وخت کې تر سره کوي. محمد حلیم فدایي د علم اوپوهې په اهمیت هم خبرې وکړې ویې ویل، چې علم هغه نعمت دي، چې دجهالت تورې تیارې رڼا کوي او انسانان دهغې له رڼاڅخه دپرمختګ نړۍ ته وربیایي، چې کومې بدبختي په ټولنه کې شتون ولري، هغه ټولنه دهمدې علم په برکت دسمون او سمې لورې ته یې مخه کوي. فدایي دلوګرپرځوانانو غږ وکړ، چې دکمپیوټراو انګلیسي ژبې په زده کړه کې له یادښوونیز مرکز څخه ښه ګټه واخلي. د امریکاسفارت د لنکن سنټر عمومي رئیس او د اطلاعات اوفرهنګ دګرځندوی معین زردشت شمس چې دسکایف پرلیکه دسفارت څخه په اړیکه کې ؤ، هریو وپه وار سره د لوګر والي څخه مننه وکړه چې د دغه سنټر په جوړونه او دامنیت په خوندیتوب کې ښه همغږي اوهمکاري کړې ده. دلنکن سنټر عمومي رئیس وویل چې په دې ښوونیزمرکزکې د ژورنالیزم، کمپیوټر، انټرنیټ اوانګلېسي برخوکې زده کړې په وړیا ډول ترسره کیږي. د اطلاعات اوفرهنګ وزارت مرستیال زردشت شمس وویل چې کتابتونونه او د زده کړې مرکزونه جوړول د دوی د لومړیتوبونو څخه دي او دغه ښوونیزمرکزونه چې په نورو ولایتونو کې شته دي، د دوی د ارزونې پر اساس ډېرګټور اومهم لاسته راوړنې لري. همدارنګه په دې پرانیسته غونډه کې د ولایتي شورا وکیل عدالت عبدالرحیمزي، داطلاعاتو اوکلتوروزارت څخه راغلي پلاوي، د لوګر دلوړو زده کړوموسسې رئیس هم خبرې وکړې اوغونډه داطلاعاتواوفرهنګ درئیس محمدشفیق پوپل له خوا پردعایې لوستلو پای ته ورسیده. عبدالفتاح مفلح دلوګردلنکن ښوونیزمرکز مسؤل دلوګرجریدې خبریال ته وویل، په دې لنکن ښوونیزمرکز ټول ټال یو لک او پنځوس زره امریکایي ډالره لګښت راغلی چې په دریو میاشتو کې یې د جوړولو چارې بشپړې او سمبال شوي دی. هغه زیاته کړه، چې په دغه ښوونیزمرکز کې په زرګونه کتابونه هم د مطالعې اولوست په موخه ایښودل شوي دي. مفلح زیاته کړه، دلوګرپه لنکن ښوونیزمرکزکې ۱۵ پایې کمپیوټرونه شته چې په یو وخت کې د ۲۰۰ تنو د کتاب، کمپیوټر او انټرنیټ مینه والود ځایدو امکانات لري. دویلو وړ ده، چې دلنکن ښوونیزمرکز پرته ددې ترڅنګ؛ دلوګرعامه کتابتون کې هم له ۱۲۰۰۰ تر ۱۳۰۰۰ټوکه مختلف بیلابیل کتابونه شته دي، چې هر ورځ له ۳۰ تنه څخه زیات دمطالعې اولوست مینوال؛ چې ډېری یې دښوونځیوزده کوونکي او دپوهنتون زده کړیالان دي، یادکتابتون ته راځي.

## ولسمشر محمداشرف غني لوګرڅخه...

جمهور رئیس د امنیتي بنسټونو تر منځ په همغږې ټینګار وکړ او وې ویل، چې دا همغږي باید د کابل او لوګر د امنیه قوماندانیو تر منځ زیاته شي.

جمهور رئیس محمداشرف غني څرګنده کړه، چې ټولې ولسوالۍ باید اداري ودانۍ ولري او اړوندو مسوولینو ته یې لارښوونه وکړه، چې د خپلو اړتیاو فهرست په لیکلې بڼه ترتیب او اړوندو وزارتونو ته وسپاري.

وروسته د هېواد جمهور رئیس د ملکي بنسټونو له مسوولینو سره هم وکتل، په دې کتنه کې د محاکمو، ولایتي شورا، ولسي شورا رئیسانو، یو شمېر سناتورانو، د مدني ټولنې او ښځو استازي په اړوند ولایت کې د خپلو ستونزو په هکله خبرې وکړې.

هغوی د امنیت د تامین، د ځمکو د غصب د مخنیوي، د کانونو د قاچاق او ښځو ته د کار د ایجاد په هکله جمهور رئیس ته خپلې ستونزې او وړاندیزونه وړاندې کړل. جمهور رئیس د خبرو له اورېدو وروسته له ټولو اقشارو څخه مننه وکړه، چې خپلې ستونزې او وړاندیزونه یې شریک کړل او وې ویل، خلک حق لري چې د ستونزو په هکله شکایت وکړي او حکومت به د خلکو د ستونزو د له منځه وړلو په خاطر هلې ځلې وکړي.

وروسته جمهور رئیس زیات شمېر خلکو ته د خبرو پرمهال وویل، ولایتونو ته زما د سفر موخه له نږدې څخه د خلکو د ستونزو ارزول دي، په همدې موخه کوښښ کوم چې ټولو ولایتونو ته سفر وکړم، په خپله له خلکو د دوی ستونزې واورم او په ګډه ورته د حل لارې ولټوو.

جمهور رئیس وویل، د ولایتونو او مرکز تر منځ واټن باید لیرې شي، له همدې امله مې تصمیم نیولی دی چې په هرو دو اونیو کې یو شمېر والیان مرکز ته راشي او د امنیت شورا او کابینې په غونډو کې ګډون وکړي.

جمهوررئیس څرګنده کړه، هڅه کوم چې د ویډیو کنفرانس له لارې هم له ۳۴ ولایتونو سره په اړیکه کې اوسم او وضعه کنټرول کړو.

جمهور رئیس محمداشرف غني زیاته کړه، د شته ستونزو باوجود حکومت هڅه کوي چې ځوانانو ته کاري فرصتونه زیات کړي.

جمهور رئیس وویل، د کرنې په برخه کې به زیات تمرکز وکړي. هغه زیاته کړه، هغوی چې د خلکو ځمکې یې غصب کړې دي د قانون منګولو ته به وسپارل شي.

جمهور رئیس د لوګر د مس عینک کان په تړون کې ستونزو ته په اشارې وویل، دا ستونزه باید د کانونو وزارت له لوري ژر تر ژره حل شي.

جمهور رئیس غني وویل، سږکال به د کانکور د ازموینې پروسه د تېرو کلونو په پرتله شفافه او متفاوته ترسره شي.

جمهور رئیس محمداشرف غني د سولې په هکله وویل، ټول باید د سولې په هکله لاسونه سره ورکړو ، ځکه جنګ نن ورځ په موږ تحمیل شوی دی او هغوی چې په غلطه لاره ځي، باید تګلوری یې بدل کړو.

د هېواد جمهور رئیس وویل، په افغانستان کې د تحمیل شوي جنګ قیمت زیات دی، که په موږ جنګ نه وای تحمیل شوی، نو دغه منابع به مو د زرګونو ښوونځیو، پوهنتونو او لویو لارو په جوړولو لګولې وای .

## جوانان ولایت لوگر علاقمند پیوستن به صفوف نیروهای امنیتی اند

با وخیم شدن اوضاع امنیتی برخی از ولایات کشور جوانان ولایت لوگر علاقمند پیوستن به صفوف نیروهای امنیتی افغان شده اند.

به تاریخ 4 عقرب بیش از یکصدو ده تن جوانان بخاطرتامین امنیت کشور داوطلبانه حاضر به یکجا شدن با نیروهای امنیتی افغان شده وگفتند که انان حاضر هستند بخاطر دفاع از حراست، نوامیس ملی وپروژه های بزرگ معادن تا خون در بدن شان جریان دارد نیروهای امنیتی خویش را حمایت میکنند.

باید گفت این یکصدو ده تن درگردهمایی که در مقام ولایت لوگر تدویر یافته در حضور داشت محمد حلیم فدایی والی لوگر ومسوولین جلب وجذب اردوی ملی وپولیس ملی داوطلبانه اماده خدمت در صفوف نیروهای امنیتی گردیدند وعلاوه نمودند که سایر جوانان را نیزآماده یکجا شدن با نیروهای امنیتی مینمایند.

والی لوگرکه درگردهمایی یاد شده صحبت میکرد گفت بلند بودن سطح بیکاری درکشور یکی از مشکلات عمده واساسی ناامنی ها وفرار جوانان است ولی جوانان لوگر پیوستن به نیروهای امنیتی را بهتر از فرار دانستند وداوطلب حاضر به خدمت شدند وی افزود که سعی میکند تا فرصت های بیشتر کاری را در لوگر بادر نظرداشت یک میکانیزم آماده سازد.

میاگل یک تن از جوانان مرکز ولایت لوگر به خبرنگار آژانس باختر گفت وی از دیری بدینسو از بیکاری رنج میبرد آما حال خرسند است که با نیروهای امنیتی میپیوندد ازیک سو به فامیل اش روزی حلال بدست میاورد از طرف دیگردر تامین امنیت مردم سهم فعال میگیرد.

اما صفی الله یک جوان دیگر که دریور موتر های بزرگ باربری است میگوید این بهتر است که حال در تامین امنیت کشور سهیم شود. عدالت عبدالرحیم زی معاون شورای ولایتی لوگربه آژانس باختر گفت بیکاری برای جوانان یک رنج شده است اما شورای ولایتی ومقام ولایت لوگر درصدد مهیا ساختن فرصت های کاری دوامدار هستند که از ان جمله پیوستن جوانان با نیروهای منیتی است. باختر

## د زده کړو مخنیوی د ناپوهۍ د دروازو پرانیستل دي

د علم زده کړه پر نارینه او ښځینه دواړو فرض ده. همدا زده کړه او پوهه ده، چې انسانان د جهالت او ناپوهۍ له تورو تیارو څخه ژغوري او د پرمختګ پر لورې بیایي.

پوهه دانسانانو دماغ ته وده ورکوي، چې ورسره د نړۍ اختراعات او پرمختګونه، چې نن یې مونږ او تاسو وینو، ټول د همدغه علم او پوهې له لارې ترلاسه کېږي، خو له بده مرغه، چې نن ورځ د هېواد د خاورې، علم، پوهې او سوکالۍ دښمنان زمونږ ماشومان له دې نعمت څخه بې برخې کوي او غواړي، چې زمونږ نوي او راتلونکي نسل له سواد څخه بې برخې شي او له دې سره زمونږ د هېواد د پرمختګ مخنیوي وکړي. افغانان د تېرو لسیزو جنګ اوجګړو په موده کې د ناپوهۍ، جهالت او له سواد څخه ددوي د بې برخې کولو ترخه تجربه لري، که چیرې په هېواد کې د علم کچه لوړه واي او یا وي، نو هغه تیرې شوې بدبختۍ به پر مونږ نه راتلاي. ټولو افغانانو ته لازمه ده، چې د پوهې کاروان، د پرمختګ تر منزله بدرګه کړي. اوس دې افغانان نور د پردو په لمسون نه تېر وځي او باید له تېرو ترخو تجربو دا زده کړي، چې په افغانستان کې د زده کړو بهیر و نه دروي، بلکې د عام ولس د ذهنیتونو د روښانه کولو لپاره هر اړخیزې هڅې پېل کړي.

د خوښۍ ځای دي، چې ډېر افغانانو دا مهال د بیسوادۍ او ناپوهۍ د له منځه وړلو په موخه مبارزه پیل کړې ده او هم ډېر خلک په دې پوه شوې دي، چې بې له پوهې ژوند ستونزمن او ګران دی. همدا وجه ده، چې خپل ماشومان د زده کړو لپاره ښوونځیو او دیني مدرسو ته لیږي، خو پر دې سربېره هم د هېواد په چارو کې د پردیو لاسوهنه له ورایه محسوسېږي، په هېواد کې د نجونو ښوونځي لا هم د ترلو له ګواښ سره مخامخ دي او په اکثرو ناامنو سیمو کې هم د نجونو ښوونځي ترل شوي دي، چې له دې سره ګڼ شمېر نجونې له زده کړو بې برخې شوې دي. پوښتنه داده، چې آیا د اسلام مبارک دین ښځو ته د زده کړو اجازه ورکوي؟ هو، ځکه په نبوي حدیث شریف کې په ښکاره ویل شوې دي، چې د علم زده کړه پرنارینه او ښځینه دواړو فرض ده. آیا مونږ نه غواړو، چې ښځینه ښوونکي، ډاکټران او په نورو برخو کې متخصصینې ولرو؟ په یقین سره، چې باید یې ولرو. ځکه د اسلامي اصولو په مراعتولو کې، نجونې به مو د زده کړو په مرکزونو کې ښځینه ښوونکې ولري، خویندې او میندې مو، چې په ځینو ناروغیو اخته کیږي، د ښځینه ډاکټرانو له خوا به یې درملنه وشي او همدا راز په نورو ورته کارونو کې، چې ښځینه برخې ورته اړتیا ولري، ښه به وي، چې ښځینه کارکوونکي ولرو.

له یادو خبرو جوتېږي، چې د علم پر وړاندې خنډ او ځنډ، د افغانانو کار ندي، بلکې دا د هغو هېوادونو کړنې دي چې د افغانستان د پرمختګ په مخنیوي او د ناامنیو په رامنځته کولو کې لوی لاس لري، ځکه دوي تل خپله اقتصادي پیاوړتیا د افغانانو په وروسته پاتې والي کې ګوري. د یو ملت وژنه د هغوي پر مخ د علم او پوهې ورونه ترل دي. ددوي پر وړاندې د زده کړو د بهیر بندول ، یعنې د جهالت د ورونو پرانیستل دي، نو هر افغان ته ښایي، چې له خپلې ټو لنې د جهالت ټغر ټول او هر یو ته د پوهې مشال په لاس ورکړل شي، تر څو وکولای شو ، خپل هېواد د پرمختللو هېوادونو سره سیال کړو.

ستانکزی

## آوردن اصلاحات ومحسوس کردن...

حرکت کرده اند وی نیز در امرسیده گی به ان از هیچگونه همکاری دریغ نه ورزد.

در جریان این محفل سید قریب الله سادات ریس شورای ولایتی لوگر نیز به نوبه خود صحبت نمود و از کار کرد های فیض محمد میرزازاده معاون قبلی مقام ولایت به نیکویی یادآورشده وبه معاون جدید وعده همکاری همه جانبه نمود. قمرالدین شکیب معاون جدید مقام ولایت لوگر نیز در صحبت هایش اطمینان داد که مسوولیت های عمده وظیفوی اش که بخش های اقتصادی، امنیتی، انکشاف، وحکومتداری میباشد در هماهنگی کامل با تمام ارگانهای دولتی آن را به پیش خواهند برد.

قابل ذکر است که قبل از این آقای شکیب مدت دو سال به حیث معاون ولایت بادغیس ایفای وظیفه کرده است. همچنان فیض محمد میرزازاده معاون اسبق ولایت لوگر در حدود یک سال وچهارماه به حیث معاون والی لوگر ایفای وظیفه نموده است وحال به حیث معاون والی بادغیس به جای آقای شکیب انجام وظیفه میکند. باختر